د منافق مثال د هغه پسه په شان دی چې د دوو رمو تر منځه ځي راځي، کله دې ته ورځي او کله هغې ته (نه پوهيږي چې کومې سره يو ځای شي

ابن عمر - رضي الله عنهما- له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې فرمايلي يې دي: «د منافق مثال د هغه پسه په شان دی چې د دوو رمو تر منځه ځي راځي، کله دې ته ورځي او کله هغې ته (نه پوهيږي چې کومې سره يو ځای شي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د منافق حال بيانوي او دا چې - منافق - لکه د هغه پسه په څېر دی چې زړه نازړه وي؛ نه پوهيږي چې د کومې رمې پسې شي، کله دې رمې پسې ځي او کله بلې پسې، نو دوی د ايمان او کفر تر منځه زړه نازړه دي، نو نه خو دوی په ظاهر او باطن کې له مؤمنانو سره دي او نه په ظاهر او باطن کې له کافرانو سره دي، بلکې په منکاره له مؤمنانو سره دي او په باطن کې په شک او ترديد کې دي، نو کله دوی - مؤمنانو - ته تمايل کوي، او ځينې وختونه - کافرانو - ته تمايل کوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65019